# د صاحب شاه صابر د ادبي او سياسي هلو ځلو ابتداء او ارتقاء

## A journey of literary and political struggle of Sahib Shah Sabir

Dr Shafiullah Shahnam*

**Abstract:**

In Pashto literature, since the beginning many poets and authors have lived their lives and they have really worked hard for the uplifting of the literature very much because pakhtoon nation always appreciates their benefactors and patterns as such. This history is as vast as the ocean, in which so many famous and renowned writers like diamonds ae there. Among these diamonds, a well-known figure is Dr. Sahib Shah Sabir. So in this research Paper deeply defined and discover the literary and political struggle of Dr. Sahib Shah Sabir.

**Key Words:** uplifting, pakhtoon, benefactors, political struggle

د پښتو شعرو ادب د معلوم تاريخ نه تر دې دمه ډېرو شاعرانو، اديبانو ژوند کړے دے چې په ريښتوني ډول ئې د ادب لمن شتۀ کړې ده. او پښتون قام ورته په بدل کښې درناوے بخښلے دے. ځکه چې پښتانۀ خپل دغه شان مشران او خوا خوږي يادوي او ستائي. دغه تاريخ د سمندر هومره ارته ببرته سينه لري چې په کښې د شمېره وتې نامې د خپلو رڼو او سوچه ذهنونو په برکت لکه د ناوياته ملغلرو پرتې دي.

په دغه ملغلرو کښې يوه نامه د اروابناد ډاکټر صاحب شاه صابر هم ده. چې د کال ۱۹۵۲ء د مارچ په نهمه (۹) نېټه د ملاکنډ په سخا کوټ نومې کلي کښې زېږېدلے ؤ. او د کال ۲۰۰۷ء اپرېل په درېمه نېټه د يو پنځوسو (۵۱) کالو په عمر کښې په خپل کلي کښې خاورو ته وسپارلے شو. خو هغه د خوشحال خان بابا خبره.

مړۀ هغه چې نۀ ئې نوم نۀ ئې نښان وي

ځکه نو اروابناد ډاکټر صاحب شاه صابر که هر څو په بدني توګه په نړۍ پاتې نۀ شو خو په روحاني او جذباتي توګه ئې د اولس په زړونو او ذهنونو کښې په نوي ډول د ژوند اغاز اوکړو. او دا ځکه چې هغه د دې خاورې يو باشعوره شاعر، اديب، نقاد، مؤرخ او د ادب استاد ؤ. ډاکټر

---

* Assistant Professor Pakhtoonkhwa Study Centre Bacha khan University Charsadda

صابر د یو پوخ مترقي ذهن خاوند ؤ. د مغربي دنیا د ترقۍ په انداز او انګازه خبر ؤ. د پښتون قام په رګونو کښې وتې ننوتې ؤ. ځکه خو د دې اولس د ښې بدې او ګټې تاوان په رازونو خبر ؤ. که شعر ئې لیکلے که افسانه او یا که تحقیق او تنقید ته ئې لاس اچولې دي. نو په داسې درنه شیرینه ژبه او ښکلي انداز کښې ئې رقم کړې دي چې د شلمې صدۍ د پښتو په جدید ادبي تاریخ کښې ئې مثالونه کم موندے شي.

پیر صاحب شاه صابر د پیر باز باچه زوے د پیر زېور شاه نمسے او د پیر منور شاه کړوسے دے. د پیرانو قبیله د پښتنو په سماجي او قامي تاریخ کښې لویه برخه لري. او په ډلیز ژوند کښې دغه نصب د هر چا نه ځکه ښکاره او معتبر دے چې پښتانۀ د پیرانو اجازه د مرګ نه پس هم اجازه ګڼي. د پیر منور شاه بابا پلار، نیکۀ د نن نه ډېر پخوا د چارسدې اتمانزو نه ملاکنډ ایجنسۍ سخا کوټ ته په کډه راغلے ؤ.

د صابر پلار پیر باز باچه ډېر تکړه او باشعوره سړے ؤ. د تجارت په روزګار کښې ئې د ژوند شپې ورځې صبا کولې. د مادي دنیا په رویه ښۀ رسېدو. ځکه خو ئې د خپلو بچو د تعلیم او تربیت پوره پوره خیال ساتلو. په کال ۲۰۰۱ء کښې د پنځۀ اتیا کالو په عمر کښې د ناورغتیا له کبله د دې دنیا نه رخصت شو. او د صابر مور د صابر د ناڅاپي مرګ نه پس د غمونو په بوخته کښې ډوبه شوه او اخر ئې د دې فاني دنیا نه په کال ۲۰۱۲ء کښې رحلت اوکړ. الله دې ورله جنتونه نصیب کړي. د صاحب شاه صابر ورور ساجد شاه د خپل پلار د حېثیت او خپل کورني حالاتو په حقله وائي: "زمونږ کورني حالات ښۀ وو. زما پلار نیکۀ تکړه مزدورکاره او علم دوسته خلق وو. زمونږه د تعلیم او تربیت ئې پوره خیال ساتلے ؤ. په ژوند کښې ئې څۀ ته خفه کړي نۀ یو. زما پلار ښۀ پرسکونه ژوند تېر کړے دے. او بیا په صاحب شاه خو ئې ښۀ ډېر سبق وئیلے ؤ". [۱]

صاحب شاه صابر ابتدائي تعلیم په خپل کور کلي کښې حاصل کړو. د مذهبي علومو بنیادي زده کړې ئې د خپل کلي په جماعت کښې ترسره کړې. او د رسمي تعلیم د حصول دپاره په ګورنمنټ پرائمري سکول نمبر ۱ سخا کوټ کښې داخل کړے شو. په دې سکول کښې چې صابر څلورم جماعت پاس کړو نو د مخکښې تعلیم دپاره ئې په ګورنمنټ هائي سکول نمبر ۱ سخا کوټ کښې داخله واخسته. او د دې سکول نه چې صاحب شاه صابر په کال ۱۹۷۲ء کښې لسم جماعت پاس کړو نو د نور تعلیم دپاره ئې تهانه کالج ته مخه اوکړه.

د سکول زمانه د صابر د شخصي ژوند هغه دوره وه چې صابر په کښې د خپل عمر مطابق ښې زده کړې کړې وې. په تاریخي لحاظ دغه دوره د ډېرې یادونې وړ ځکه ده چې په دغه

وختونو کښې ژوند کول ډېر ګران شوي وو. د پاکستان حکومتي نظام لا په پښو ولاړ نۀ ؤ چې جنرل ايوب خان مارشل لاء ولګوله. مارشل لاء خپل بنيادونه مضبوطول چې ترقي پسندې د سياست په مېدان کښې د ګڼ شمېر ليډرانو په صورت کښې خپل افاديت ښکاره کړو. په دغه سبب ملکي نظام او اولسي ژوند ته نورې خطرې پېښې شوې.

په کال ۱۹۶۵ء کښې د پاکستان او هندوستان جنګ اونښتو، په ۱۹۷۱ء کښې د بدامنۍ، مايوسۍ او بې حسۍ په وجه بنګال جدا شو. او په کال ۱۹۷۳ء کښې "د بلوچستان اپرېشن" په نوم خانه جنګي پېل شوه. په داسې سنګينو حالاتو کښې رښتيا خبره ده چې وخت تېرول ګران شي. خو مايوسي کفر دے. صابر خپلې زده کړې جاري اوساتلې او د وخت سره سره ئې خپل جبلي قوتونه پکار راوسته. څو چې صابر د ماشومتوب نه زلميتوب طرف ته تلو نو هغه ټول هنرونه او خصلتونه په کښې ښکاره شوي وو کوم چې صابر د ځان سره قدرتي راوړي وو.

د رسمي تعليم سره سياست او ادبي هلې ځلې د هغۀ د وړوکوالي د ژوند او شخصيت لاشعوري محرکات وو. چې وروستو صابر په شعوري ډول د اولسي ژوند د خبر ښېګړې دپاره پکار کړه. زاهد الرحمان زاهد د ډاکټر صابر د وړوکوالي د چم ګاونډ ملګرے دے. د صاحب شاه د ماشوم والي، قد قامت او خوئي خصلت په حقله وائي: "صابر د وړوکوالي نه داسې ناټيکاؤ غوندې هلک ؤ. ناټيکاؤ دا ؤ چې د جګړو شين ټاکو ؤ. د ملګرو جګړې به ئې هم په خپل سر اخستې. په پټ، پښتو او د ننګ په خبرو د ماشوم توب نه ښۀ پوهه ؤ. صابر د ونې نه مندرے ؤ خو خدا ے مضبوطې متې او فولادي جوثه ورکړې وه...... په خپلو همزولو کښې ښۀ تکړه او مېړور ؤ. په دې وجه به د خپل ټولګي سر لښکر ؤ. د هرې لوبې شروع به د دۀ په خوښه کېده............ د لسم جماعت پورې زده کړه ئې د سخا کوټ هائي سکول نمبر ۱ نه کړې وه".[۲]

ډاکټر صاحب شاه صابر د وخت د غوښتنې په سمي د پښتون اولس دپاره نۀ ستړې کېدونکې سياسي مبارزه کړې او د سياسي بندي په توګه ئې ډېرې کړمې ګاللې. د بدنې سختو په څنګ ئې د قلمي مبارزې نه هم مخ نۀ دے اړولے. د ادب پوهان خبر دي چې ډاکټر صابر د دې ټولنې يو باتور او ځيرک دانشور ؤ. هغه د خپل فکر او قلم په لار دې قام ته د روښانه مستقبل لارې ګودرې د مات ټيکرې په درک ښودلې دي. پښتون قام باندې چې کوم جنګونه مسلط کړے شوي د هغې په تاوان خبر ؤ. او په دغه حقله ئې خپل يو واضحه نظر لرلو. چې پښتون اولس ئې ترې وخت په وخت خبر ساتلے دے لکه دا چې:

دلته د غل او د قاضي قيصه يوه قيصه ده
دلته کښې سپينې دي د غلو د غلچکو لمنې[۳]

د سکول د زمانې نه صابر په هر قسمه جلسه جلوس کښې ګډون کوۀ. په دغه زمانه کښې د ملاکنډ اېجنسۍ د بحالۍ دپاره د سکول ماشومانو ډېرې جلسې کړې دي. صاحب شاه صابر او ډاکټر خالق زيار په دغه جلسو کښې شريک شوي وو. د صابر وړوکوالے د نورو ماشومانو نه جدا ځکه ۇ چې هغه ډېر په کم عمر کښې د سياست او ادب هنر او شعور لرلو. خبرې ئې اثرناکې وې. د تقرير کولو هنر ئې زده ۇ. ملګري جوړول د هغۀ دپاره ګرانه خبره نۀ وه. دغه اثر ۇ چې وروستو صابر په لږ وخت کښې ډېر کلک ملګري پيدا کړۀ. رحمت شاه سائل د صاحب شاه صابر سره د خپلې ملګرتيا او د هغۀ د سياسي نقطه نظر ذکر څۀ په دا ډول کوي:

"ډاکټر صابر سره زما تعلق په ډېرو کلونو خور ۇ او مونږ په کلونو کلونو په سياسي او ادبي مېدان کښې ډېر نزدې ملګري پاتې شوي يو...... ډاکټر صاحب لکه د نورو مېدانونو د دې مېدان هم يو نۀ ستړے کېدونکے لوبغاړے او فاتح پاتې شوے دے. که زۀ دا اووايم چې دې سړي له د دې خاورې، دې قام او دې وطن د غمه بغېر خوب نۀ دے ورغلے. نو دا به د رښتياؤ نه هم ډېره رښتيا خبره وي".[۴]

د لسم جماعت پاس کولو نه پس صاحب شاه صابر په ګورنمنټ ډګري کالج تهانه کښې داخله واخسته او په باقاعده توګه ئې ادبي او سياسي هلو ځلو ته لاس واچوۀ. صابر په (Arts Group) کښې داخل شو او په کال ۱۹۷۴ء کښې ئې دولسم جماعت پاس کړو.

صابر د کالج په سياسي او ادبي هلو ځلو کښې پوره برخه اولرله او په لږه موده کښې ئې ځان د سياست او ادب په مېدان کښې ښکاره کړو. صابر نه صرف د پښتون سټوډنټس فېډرېشن سرګرم غړے ثابت شو. بلکې د پښتون اولس دپاره ئې ډېرې قربانۍ هم ترسره کړې. د کالج په دولسم جماعت کښې د صابر په مشرۍ کښې د پښتون سټوډنټس فېډرېشن غړے ايوب خان افغاني د "هتيانو" په الېکشن کښې کامياب شو. او د کالج صدر منتخب شو. ايوب خان افغاني، عثمان علي، د "درګۍ" او لياقت سوز د "دير" د صاحب شاه صابر سره د سياسي فکر کلک ملګري جوړ شوي وو:

"صاحب شاه صابر د تانې د کالج د ملګرو روح روان هم ۇ او سرپنچ هم. ځکه چې دے نه صرف په سياست د هغوي نه زيات پوهېدو بلکې شاعر هم ۇ. او د لوستو دومره ډېر شوق ئې کوۀ چې کتاب او صاحب شاه صابر به لازم ملزوم وو. د بې

قرارۍ حال ئې دا ؤ چې که په چربانګ کښې به چا اووې چې ځئ چې اودۀ شو نو په دۀ به قيامت جوړ شو".[۵]

د علم او پوهې په حقله د صابر شخصيت منلے شوے او ياد شوے دے. صابر ټول عمر د رسمي او غېر رسمي زده کړو په حلقو کښې وخت تېر کړے دے. د هغۀ ټول ملګري په يوه خُلۀ دي چې داسې يوه موقع نۀ ده پېښه شوې چې صابر په کښې د کتاب نه لاس اخستے وي. صابر به چې چرته هم تلو راتلو نو اخبار، رساله به ورسره خامخا وو. د صابر د مطالعې اندازه دومره ډېره وه چې ټوله شپه به ئې د کتاب ليک لوست کوؤ. دغه وجه ده چې ملګرو به ورته "کتاب شاه" وئېل. او تر مرګه پورې ئې د کتاب سره کلک تړون پاتې شوے ؤ. هغۀ په ډېرو سختو حالاتو کښې سترګې غړولې وې خو د تقدير کړښې نۀ نورېږي. د قدرت له خوا ئې د علم او پوهې استعداد لرلو. ځکه ئې په قدم قدم کاميابي تر سره کړې.

بله اهمه خبره دا وه چې په اتلسمه، نولسمه او د شلمې صدۍ په ورمبنولسيزو کښې د دنيا په سماجي او سياسي رويو کښې ډېر بدلون راغلو. دا بدلون د يورپ د صنعتي انقلاب، ورومبي عالمي جنګ، دويم عالمي جنګ او د اشتراکي نظريې په کوششونو ممکن شو. دا په بېن الاقوامي سطح داسې بدلون ؤ چې د دنيا په هر ګوټ کښې ئې مهذبه او علم دوسته خلق متاثره کړۀ. دې تحريکونو سماجي وحدت او معاشي عدالت ته لارې پرانستې او په اولسي ژوند کښې ئې د اميد او رڼا رنګونه خوارۀ کړۀ. اولس ئې د غلامۍ د خوب نه راېدار کړو او د ازادۍ د سوچ سره ئې اشنا کړو. دغه اثرات وو چې د ليکوالانو او پوهانو طبقه ئې ډېره زياته متاثره کړه. او بيا په تېره تېره د صابر په شان ترقي خوښ قام پرسته شاعرانو خو د اولسي استحصال خلاف مبارزه خپله وظيفه اوګرځوله. ځکه خو صابر وخت په وخت په خپلو تخليقي فنپارو کښې د دې نظريو تقليد او ابلاغ کوؤ لکه دا چې:

د دنيا روزګار په سوله په صلاح شي
کوم قامونه چې د جنګ په لوري ځي مري[۶]
د جنګ د لېوتتوب ادۍ مړه نۀ وي
نۀ انسان امن ليدے شي نۀ تهذيب شي[۷]

صابر د وړوکوالي نه ښۀ پوهه او تکړه هلک ؤ. په لوبو کښې ښۀ مړنے ؤ. ولي بال، فټ بال او کبډي به ئې ښۀ په شوق کوله. صابر چې په پرائمري سکول کښې ؤ نو د ادب سره ئې علاقه لرله. چې چرته په کلي، ګاونډ کښې به مشاعره راجوړه شوه نو صابر به ورله خامخا ځان رسوؤ. هوش مزاجي ئې قدرتي وه. او حاضر جوابي ئې تر مرګه منلے کېده. د خبرې په چل پوهېدو. د حجرې جماعت او کلي کلويغۍ په عملي سرګرمو کښې د ماشومتوب نه راروان ؤ. او رو رو د ادبي دنيا

په لاړو ګودرو سمېدو. ادب لوستل او شعر ليکل صابر د سکول د زماني نه شروع کړي وو. صاحب شاه صابر د خپل شعري ډګر په حقله وئېلي.

"د شعر د لوست او د ښوني شوق خو له ډېر وړوکوالي نه راسره ؤ. چې کله به مې درس ولوستو، بيا به مې شعروشاعري لوسته. که به په څۀ پوهېدم که نه، بيا د سکول په سبق کښې څۀ مخکښې لاړم. بيا مې نو خپله هم شعرونه ليکل شروع کړل. د مکتب په اتم کښې مې شعر ليکل شروع کړي دي".[۸]

خدا ے بخښلے شېر علي شېدا صېب د صاحب شاه صابر او تجمل حسن قائل د شاعرۍ د فن استاد ؤ. قائل او صابر به بغېر د څۀ ناغې نه د شېدا صېب حجرې ته هر ما سخوتن تلۀ. او هغه به د شعرونو په وزن، بحر، رديف، قافيه وغېره پوهول.

شېر علي شېدا د سخا کوټ د کلي اوسېدونکے ؤ. خوږ انسان، تعليم يافته ځوان او د پښتو ژبې ښۀ شاعر ؤ. هغه وخت کښې به د شېدا صېب حجرې ته ښۀ ښۀ شاعران، اديبان راتلۀ. او صابر به د هغوي علمي او ادبي بحثونه اورېدل. په دغه ليکوالو کښې شمس القمر اندېش، رحمت شاه سائل، سرور خټک او عاصي هشنغرے داسې کسان وو چې دا به اکثر د شېدا صېب خوا له راتلۀ. د دغه محفلونو ليدلي اورېدلي صابر ډېر په غوره توګه په خپل ذات کښې جذب کړۀ او د ادبي دنيا په سفر روان شو.

تهانه کالج کښې دولسم جماعت پاس کولو نه پس صابر په ګورنمنټ ډګري کالج مردان کښې د "ګرېجوېشن" دپاره داخله واخسته. او په کال ۱۹۷۹ء کښې ئې د اسير طالبعلم په حېث د ملاکنډ جېل نه پرچې ورکړې. او د څوارلسم جماعت ډګري ئې تر لاسه کړه. او د اعلی تعليم دپاره پېښور يونيورسټۍ ته لاړو.

صابر صېب په مردان کالج کښې د خپلو سياسي او ادبي هلو ځلو دائره نوره هم پراخه کړه. په وړومبي کال، په الېکشن کښې پښتون سټوډنټس فېډرېشن ناکام شو. او په دوېم کال په واضحه اکثريت سره صادق شاهين د Students Politics تر مخه د پښتون سټوډنټس فېډرېشن له خوا د کالج صدر جوړ شو. عثمان علي، حبيب الله او ايوب خان په مردان کالج کښې د صابر نزدې نظرياتي ملګري وو.

د کالج د الېکشن د ګټلو نه پس د پښتون سټوډنټس فېډرېشن له خوا د راساز شوي تقريب په موقع صاحب شاه صابر په خپل تقرير کښې په پښتون اولس، پښتنه ټولنه او سياسي نظم و ضبط باندې د خپل عمر نه پخې خبرې اوکړې. د دې غونډې مشر مېلمه خدائي خدمتګار خان

عبدالغفار خان فخرِ افغان باچا خان ؤ. باچا خان د صابر د خبرو نه پس صابر ته ۱۰۰ روپۍ انعام ورکړو. او ورته ئې اووې چې بچے زهٔ پیسې بې ځایه نهٔ خرچ کوم. خو تا راله زړهٔ ډېر خوشحاله کړو. ستا خبرې مې ډېرې زیاتې خوښې شوې ځکه مې درله دا پیسې په انعام کښې درکړې.

د دې نه څهٔ موده پس صابر د سیاسي هلو ځلو په وجه د "ملاکنډ سازش کېس" په تور کښې بندیوان کړے شو. او تر اتلس (۱۸) میاشتو پورې بندي اوساتلے شو. دا د هغه کلونو خبره ده کله چې ضیاء الحق د مارشل لاء لاندې امریت د اسلام او جمهوریت په نامه چلولو. د فوځ له خوا په ملکي نظام کښې مداخلت د کال **۱۹۵۳**ء نه شروع شوے ؤ. او نتیجه ئې ډېره زر په کال **۱۹۵۸**ء کښې د خلقو مخې ته شوه. دغه سلسله وه چې تر ننه راروانه ده او چلېږي. چې کله هم چا د جمهوریت نامه اخستې نو د پاکستان ریاست ورته په مرۍ غلے شوے دے. په کال **۱۹۵۸**ء کښې چې چیف مارشل لاء اېډمنسټرېټر جنرل محمد ایوب خان د صدر عهده تر لاسه کړه نو لس کاله حکومت ئې اوکړو. خو جمهوریت ته ئې لاره هواره نهٔ کړے شوه.

نتیجه دا شوه چې د عوامو شدید مزاحمت ایوب خان د سیاسي ګوندونو سره په مذاکراتو مجبوره کړل. دا ځل حالاتو سمون خوړو خو په مېنځ کښې څهٔ شرپسند عناصر راګډ شو او ماحول ئې نور هم خراب کړو. دغسې یو ځل بیا په ملک کښې مارشل لاء نافد شوه او یحیٰی خان چیف مارشل لاء اېډمنسټرېټر جوړ شو. خو یاده دې وي چې دغه وخت د آئین مطابق د صدر اختیارات امرانه وو ځکه حالاتو سمے نهٔ خوړو. څو کاله پس د ظلم د مخ نیوي دپاره عوامي تحریک په حرکت کښې شو او د امرانه نظام خلاف نعره بازي عامه شوه. او شاعرانو د انساني ژوند بنیادي تقاضې د شعر په پېرایه کښې اونغښتې:

نهٔ خان زنده باد نهٔ نواب زنده باد
دوه ډوډۍ پاؤ کباب زنده باد
انقلاب زنده باد
انقلاب زنده باد
غلې دې انبارونه انبارونه په دې ښار کښې
آسمان ته رسېدلي محلونه په دې ښار کښې[۹]

ځکه نو سیاست پوهان، قام پرسته غړي او ترقي پسنده ډله متحرک شوه او اخر په کال **۱۹۷۱**ء کښې ذوالفقار علي بهټو د ملک د صدر سره سره چیف مارشل لاء اېډمنسټرېټر هم جوړ شو. د کال **۱۹۷۷**ء پورې بهټو د ملک نظام چلولو، حالات سازګار شوي وو. په دغه کال بهټو

صېب په ملک کښې عام انتخابات هم اوکړۀ. خو له بده مرغه په الېکشن کښې ټګي برګي اوشوه. او په ملک کښې بيا انتشار خور شو. د روايت تر مخه بيا په ملک کښې جنرل ضياء الحق مارشل لاء لاګو کړه. غرض دا چې په داسې سخت وخت کښې سياست کول د هر چا د وس خبره نۀ وه: "دې حده پورې خبره رانزدې شوې وه چې نن مرو صبا مرو او جنګ دے. د دې نه څو مياشتې مخکښې سائل، صاحب شاه او زۀ ورسره وومه. مونږه په سوات کښې مشاعره کوله. په هغې کښې چې مونږه کومې خبرې اوکړې او شعرونه مو واورول نو چې واپس راتلو سائل صېب شپې ته پاتې شو او مونږه نور راتلو. مونږ سره چې کوم ملګري دګاډې پورې راغلۀ هغوي مونږ ته وئېل چې يره تاسو لږ په ادله بدله لاړه باندې لاړ شئ. د دې ويرې نه چې مونږه په دغه پروګرام کښې څۀ خبرې کړې وې. مطلب دا چې په دغه وخت کښې هر طرف ته د جنګ او نفرت تيارې خورې وې. انساني شعور په چا کښې هم نۀ ؤ". [۱۰]

خو صابر يو باشعوره شاعر اديب ؤ. ځکه ئې په خپله سياسي مبارزه کښې ډېر جېلونه تېر کړۀ. او د کالج په وخت کښې ئې په جلسه جلوس کښې ډېر ځله د پوليس اهلکارو نه سره د ملګرو وهلو ټکولو ته هم ځان ونيوو. د ډاکټر صاحب د قېدوبند په حقله تجمل حسن قائل ليکي: "مونږ نوي زلموټي هلکان وو. او دلته د ضياء الحق مارشل لاء وه. په يو بې بنياده سياسي مقدمه کښې چې وروستو ورته د "ملاکنډ سازش کېس" نامه ورکړے شوه. د ملاکنډ پوليټيکل ايجنټ د سپېشل برانچ اهلکارو ته د ګرفتارۍ نه پس حواله کړو. د دغه وخت فوځي حکومت ته د خانانو او نام نهاد رجعتي مذهبي ګوندونو کلکه مرسته حاصله وه. هغوي چې په مختلفو ټارچر سېلونو کښې په هفتو هفتو په مونږ کوم ناروا او ناقابل برداشت تشدد وکړو په دې غرض چې د ناکړې ګناهونو اقبال جرم وکړي..... خو هغوي ناکامه او نامراده پاتې شول". [۱۱]

> "يوه ورځ ئې صابر اوواهۀ او بيا چې ئې رابهر کړو نو پښې ئې وينې وينې وې. نو په پښځه ئې زما نه هغه پښې پټولې. د دې دپاره چې د قائل زړۀ ونۀ غورځېږي او هسې نه چې وار خطا شي". [۱۲]

د "ملاکنډ سازش کېس" په تور کښې رحمت شاه سائل، افراسياب خټک، قائل، سرفراز، مقرب، صادق شاهين، امير محمد (درګۍ)، محمد نظيف (سخاکوټ)، حبيب الله (سخا کوټ)، فېض محمد او سيد محمد (درګۍ) او حبيب الرحمٰن (سخاکوټ) د صاحب شاه صابر ملګري وو.

د قېد نه پس په کال ۱۹۸۱ء کښې صابر د پېښور پوهنتون نه په پښتو ادب کښې د ماسټر ډګري واخسته. ورپسې ئې په کال ۱۹۸۳ء کښې په اردو ادب کښې ايم اے اوکړه او بيا ئې په کال

۱۹۹۴ء کښې په سیاسیاتو کښې شپاړسم جماعت پاس کړو. صابر په دري مضمونونو کښې ایم اے اوکړه. خو د علم تنده ئي پرې ماته نۀ شوه. د نورې زده کړې دپاره ئې خپل تعليم جاري اوساتو. او په کال ۱۹۹۱ء کښې ئې د پښتو ډيپارټمنټ پېښور يونيورسټۍ نه ايم فل او په ۲۰۰۵ء کښې د پښتو ډيپارټمنټ پېښور يونيورسټۍ نه پي ايچ ډي تر سره کړه. او د تعليم سره سره ئې خپله سياسي مبارزه هم مخ په وړاندې بوتله ځکه چې: "دې قام ته د صاحب شاه غوندې مخلصو پوهانو، هنرمندانو او د عصر په ژبه پوهه دانشورانو زيات ضرورت دے. او دا خبره زۀ ځکه کوم چې هغۀ هم هغه لاس او هغه ټوپک پېژندو څوک چې ما په ما وژني او هم ئې دا شعور لرلو چې:

د ژوند اهنګ د ژوند نغمه بدلوي
حالات بدلېږي زمانه بدلوي
څوک چې په ژوند کښې څۀ بدلونه غواړي
اول به خپله رويه بدلوي"[۱۳]

صابر د دې قام او خاورې دپاره ډېره مينه لرله. او د انسان په خوږ درد به ډېر درد ېدو او خوږېدو. دغه جذبې وې چې صابر ئې په سياست کولو مجبوره کړے ؤ. يونيورسټۍ دوران کښې ګرفتارۍ شروع شوې او يو ځل بيا صابر سره د ملګرو جېل ته اولېږلے شو. دا ځل د صاحب شاه سره د هغۀ پلار پير باز باچا هم ګرفتار کړے شو او د ملاکنډ په جېل کښې ئې شل ورځې قېد تېر کړو. په يونيورسټۍ کښې پروفېسر ممتاز بنګش، پروفېسر شفيق، ډاکټر شاه جهان، ډاکټر اعجاز خټک، مرحوم ډاکټر حکيم الله جان، ډاکټر عبدالوحيد د صوابۍ او صاحب شاه صابر د يوې ډلې کلک ملګري پاتې شو.

ډاکټر صابر د بېن الاقوامي معيار اديب او ليکوال ؤ. د هغۀ راڼۀ افکار د علم، پوهې او عصري شعور او د انسان د سوکالۍ سرچينې دي. پکار ده چې دغه ټول اړخونه راڼۀ او څرګند کړے شي. داسې به د پښتو ادب لوستونکي خصوصاً او پښتون اولس عموماً د خپل دغه محسن او خواخوږي د علمي کاوشونو نه په غوره توګه ګټه پورته کړي. د صابر د سياسي ژوند او ذاتي قربانيو په حواله سيد عابد جان ليکي: "زۀ صاحب شاه صابر د هغې مودې راسې پېژنم چې لا هغه په باقاعده ډول د ادب مېدان ته نۀ وو رادانګلي او د سياست په لوبه کښې مشغول ؤ. د لېوتتوب دغه دور هغۀ په روپوشۍ، د حوالاتو، تانو او زندانونو په ديدار، مقدمو، وهلو ټکولو او نارو سورو تېر کړو او د ژوند خوږه برخه (ځواني) ئې د ظلم، استحصال، سامراجيت او امريت په ضد مبارزه کښې قربان کړه".[۱۴]

صابر د سیاسي مقصد تر سره کولو دپاره د ادب لاړ غوره ګڼله. ځکه ئې د پښتنې ټولنې او اولس کشالې د شاعرۍ په رغښت کښې په نخښنه کړې. او هره انساني رویه ئې په مثبت کردار کښې وړاندې کړه. چې د پښتون قام ټولنیز مافیت ته ئې ډېره وده ورکړه.

---

## حوالې


۱. مواجهه، ساجد شاه، مقام رهائش ګاه سخا کوټ ملاکنډ، ۲۰۱۵ ـ ۵ ـ ۱۹
۲. مواجهه، زاهد الرحمان زاهد، مقام، رهائش ګاه تجمل حسن قائل، سخا کوټ ملاکنډ، ۲۰۱۵-۴-۱۳
۳. صابر، صاحب شاه، د صابر کلیات، دانش خپرندویه ټولنه، پېښور، ۲۰۱۰ء، مخ ۴۳۳
٤. سائل، رحمت شاه، پښتون، میاشتینۍ مجله، پېښور، درېم دور دوېم کال پنځمه ګڼه مئی ۲۰۰۷ء، مخ ۳۲ ـ ۳۵
۵. هم دغه اثر، مخ ۳۳
٦. صابر، صاحب شاه، د صابر کلیات، دانش خپرندویه ټولنه، پېښور، ۲۰۱۰ء، مخ ۱۹۹
۷. هم دغه اثر، مخ ۳۸
۸. صابر، صاحب شاه، ښکلا، میاشتینۍ خپرونه، کندهار، اووۀ ویشتمه ګڼه، ۱۳۸۵ (مرغومي، سواغه)، مخ ۴۵
۹. صابر، صاحب شاه، پښتو ادب کښې ټولنیز مافعیت، د ایم فل تحقیقي مقاله، مخ ۱۹۹
۱۰. مواجهه، ډاکټر عبدالخالق زیار، مقام، ګورنمنټ میډیکل هسپتال درګی، ۲۰۱۵-۵-۵
۱۱. قائل، تجمل حسن، واورې او ګلونه، پاک امارات پښتو ادبي ټولنه، دوېم چاپ ۲۰۱۴ء، سلسله نمبر ۲، مخ ۱۸
۱۲. سائل، رحمت شاه، پښتون، میاشتینۍ مجله، پېښور، دوېم دور، دوېم کال پنځمه ګڼه، مئی ۲۰۰۷ء، مخ ۳۴
۱۳. یوسفزے، نورالامین، سپېځلي کردارونه، پښتو ادبي غورځنګ کوئټه، ۲۰۱۲ء، مخ ۵۴
۱٤. سید عابد جان، سریزه، خوبونه، دانش خپروندویه ټولنه پېښور، ۲۰۰۵ء